عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي

۱۵ جون ۲۰۱۷

اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**یو اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**د افغانستان حالت**

**د امنیت شورا**
**دوه اویایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

### د عمومي منشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پریکړه لیک او د امنیت شورا ۲۳۴۴ (۲۰۱۷) پریکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو ، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم ، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۱۷ د مارچ پر ۳ زما د راپور (A/71/826-S/2017/189)له خپریدو راهیسې دغه راپور د سیاسي ، بشري ، پرمختیایي او د بشري حقونو د هڅو په ګډون ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. راپور دغه راز د افغانستان اړوند د کلیدي سیاسي او امنیتي پرمختګونو او د سیمه ییزو او نړیوالو پیښو لنډیز برابروي.

### دویم: اړوند پرمختګونه

۳. د ملي یووالي حکومت د لومړیتوب لرونکو اصلاحاتو او دغه راز د لوړې کچې ګمارنو په اړه یو څه پرمختګ کړی. افغان چارواکو د انتخاباتي مرکزونو د ارزونې د یوې بستې د تایید په ګډون ټاکنیزې تیارنې ترسره کړې. د راپور ورکولو پر مودې افغانستان ته د اسلامي حزب (ګلبدین) د ډلې مشر ګلبدین حکمتیار راستنیدنه حاکمه وه. د حکمتیار راستنیدنه په افغان سیاست کې د بدلون په حال کې رامنځ ته شوه ، کوم چې تر یوه بریده د ۲۰۱۹ کال تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې د سیاسي کړیو ترمنځ د زیاتې شوې سیالۍ له امله رامنځ ته شوی. د ولسمشر لومړي مرستیال عبد الرشید دوستم د راپورونو له مخې د درملنې په موخه د مۍ په منځ کې ترکیې ته ولاړ ، د ملي جنبش ډلې له دولت سره مخالفت پیل کړ ، او د جمعیت اسلامي ګوند د ننه هم یو شمیر شخصیتونو مخالفت پیل کړ. په ورته وخت کې ، د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو په اړه کوم څرګند پرمختګ نه دی شوی. که څه هم په سیمه ییزه کچه په څو اړخیزه ښکیلتیا او ګډون کې زیاتوالی ملاحظه شوی. افغانستان او پاکستان د پولې په اوږدو کې د شخړو سره سره د اړیکو د ښه کولو لپاره هڅې ترسره کړې. د ۲۰۱۶ د ورته مودې په پرتله د کال په لومړیو پنځو میاشتو کې په امنیتي پیښو کې له زیاتوالی سره ، امنیتي وضعیت اوس هم بې ثباته دی. د مۍ پر ۳۱ نېټه ، کابل د یوه ځانمرګي برید شاهد و ، کوم چې لږ تر لږه ۶۵ کسان ووژل او ۳۰۰ زیات نور یې ټپي کړل ، دغه

برید تیار له پخوا نازک سیاسي وضعیت لا پسې کړکیچن کړ چې د څو ورځنیو لاریونونو چې یو شمیر یې پر تاوتریخوالي واوښتل ، لامل شو. د ولسي وګړو په وړاندې په لوړه کچه تاوتریخوالی او د پام وړ بېځایه کیدنې ثبتول اوس هم روان دي. اقتصادي وده ، که څه هم لږ څه ښه شوې ، خو د راپور ورکولو په موده کې لا اوس هم ټیټه ده.

**دریم: سیاسي پرمختګونه**

۴. ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله عبدالله د لوړپوړو پوستونو په برخه کې د ګمارنو په اړه پرمختګ کړی ، کوم چې پخوا د ملي یووالي د حکومت ترمنځ د اختلاف یوه سرچینه ګڼل کیده. د امنیتي ګمارنو بورډ په مارچ کې تاسیس شو ، چې مشري یې په امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو لپاره د دولت د نوي وزیر له خوا کیږي ، څو په امنیتي سکتور کې د وړتیا پر بنسټ د ګمارنو اړتیا ته رسیدنه وکړي. د مارچ پر ۱۱ ، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمیسیون نوي مشر وګمارل شو ، دغه پوست د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر راهیسې خالي و. پر دې سربیره دولت د لوړپوړو پوستونو په برخه کې یو شمیر نورې ګمارنې هم کړې او د کابینې څلور غړي یې ټاکلي: د کانونو او پټرولیم وزیر ، د کار ، ټولنیزو چارو ، شهیدانو او معلولینو وزیر ، د پارلماني چارو لپاره د دولت وزیر او د کلتوري چارو لپاره د دولت وزیر. له دې سره سره ، د شپږو نورو وزیرانو برخلیک څوک چې د ۲۰۱۶ په نومبر کې د ولسي جرګې له خوا سلب اعتماد شوي وو ، نا معلوم پاتې و ، او د ولسي جرګو غړو له حکومت څخه د دغو وزارتونو لپاره د نوو نوماندانو د ورپیژندلو غوښتنه کوله.

۵. د مارچ پر ۲۷ د ملي شورا ولسي جرګې د دغې میاشتې په لومړیو کې په کابل کې پر یوه نظامي روغتون تر مرګوني برید وروسته د دفاع وزیر ، د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت د ریاست رییس استیضاح کړل. ټولو د اعتماد رایه ترلاسه کړه. له دې سره سره ، د دفاع وزیر او لوي درستیز د اپریل پر ۲۱ په بلخ ولایت کې د ملي اردو پر یوې قرارګا (بیس) تر برید وروسته چې د درنو تلفاتو او د هیواد د امنیتي مشرتابه په وړاندې د خلکو د جدي غبرګون لامل شو ، له خپلو منصبونو استعفاوې وړاندې کړې. له بل پلوه ، ولسي جرګې د مکررې غیر حاضرۍ له امله د خپلو نهو غړو د معاشاتو اجرا تعلیق کړل.

۶. د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو رانږدې کیدو پر مختلفو سیاسي ایتلافونو اغیز کړی. د اسلامي جمعیت سیاسي ګوند ترمنځ اختلافات په زیاتیدونکي ډول څرګند وو. د بلخ والي عطا محمد نور ، د مارچ پر ۱۳ په ښکاره ډول اجرائیه رییس عبدالله د جمعیت غړو لپاره په حکومت کې د پام وړ منصوبونو په ترلاسه کولو کې د پاتې راتلو له امله نیوکې وکړې او د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې له ولسمشر غني سره یې خپله ښکیلتیا جاري وساتله. له بل پلوه ، د اپریل پر ۱۶ ، ولسمشر غني د جمعیت مرستیال احمد ضیا مسعود د اصلاحاتو او ښې حکومتولي د ځانګړي استازي په څیر د کابینې کچې له منصب څخه ګوښه کړ. مسعود په ۲۰۱۴ کې د غني د کمپاین یو له مخکښو ملاتړو څخه و ، که څه هم تر ګوښه کیدو وروسته په ښکاره ډول یې پر دغه کار پښیماني څرګنده کړه. په ورته وخت جمعیت اسلامي ګوند د خپل مشرتابه شورا پراخه کړه ، او د مئ پر ۲۳ دغه ګوند اعلان وکړ چې د ۲۰۱۹ کال د ولسمشریزو ټاکنو لپاره به خپل نوماند نوموي.

۷. د ولسمشر لومړی مرستیال دوستم د ۲۰۱۶ په نومبر کې د یوه سیاسي سیال د تښتونې او جنسي تیري د تور له امله تر څیړنو لاندې و. هغه د مئ تر ۱۹ نېټې پورې کله چې یې د راپورونو له مخې ترکیې ته د درملنې لپاره سفر وکړ ، په خپل کور کې نظربند و. د مارچ پر ۱۱ نېټه د دوستم د ملي جنبش په سلګونو ملاتړي د هغه په کور کې سره راغونډ شول او د هغه زوی یې د دغه ګوند د سر پرست په څیر ونوماوه. د اپریل ۲۶ ، د جنبش نږدې ۲۰۰۰ پلویانو د جوزجان ولایت په شبرغان ښار او د مئ پر ۵ د بلخ ولایت په مزار شریف ښار کې د حکومت له خوا د لومړي مرستیال د تبعید او د نا پېښتنو قومونو په وړاندې د تور لګول شوي توپیر په وړاندې لاریون وکړ.

۸. د اسلامي حزب (ګلبدین) ډلې مشر ګلبدین حکمتیار له شلو په زیاتو کلونو کې د لومړي ځل لپاره د اپریل پر ۲۹ نېټه په افغانستان کې د خلکو ترمنځ په لغمان ولایت کې را ښکاره شو. د حکمتیار راستنیدنه د دولت او اسلامي حزب ترمنځ د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر کې د سولې د رامنځ ته شوي تړون یوه برخه وه. د مۍ پر لومړۍ نېټه، غني یو فرمان لاسلیک کړ چې اسلامي حزب (ګلبدین) پورې تړلو بندیانو د لومړۍ ډلې د خوشې کولو صلاحیت ورکوي، چې په ورپسې ورځ کې د ۵۵ بندیانو خوشې کول اعلان شول. د مۍ پر ۴ حکمتیار د یوه وسله وال کاروان په ملتیا کابل ته را ورسید او په ولسمشریزه ماڼۍ کې یې ګڼ شمیر دولتي چارواکو او نورو سیاسي مشرانو ته وینا وکړه. ولسمشر غني، اجرائیه رییس عبدالله او پخواني ولسمشر حامد کرزی د مخاطبینو ترمنځ وو، خو د سیالۍ کوونکي جمعیت اسلامي ګوند یو شمیر مخکښ غړي نه وو موجود. ولسمشر غني د حکمتیار د راستنیدنې د سولې او پخلاینې په لور د یوه مهم ګام په څیر هرکلی وکړ. له دې سره سره، د بشري حقونو مدافعینو او د مدني ټولنې ډلو دا اندیښنه څرګنده کړه، چې د حکمتیار راستنیدنه به د طالبانو د رژیم د را نسکوریدو راهیسې په بشري، سیاسي او ملکي حقونو په برخه کې د تر لاسه شویو لاسته راوړنو د شاتګ لامل شي. حکمتیار د اسلامي حزب (ارغندیوال) له سیاسي ډلې سره، چې غړي یې له پخوا راهیسې په اداره کې ګډون کوي، خبرې اترې پیل کړې. سیالو سیاسي فعالینو اندیښنه څرګنده کړه، که چیرې د اسلامي حزب (ګلبدین) او (ارغندیوال) دواړه برخې سره یو ځای شي، دا به د هیواد تر ټولو ستره سیاسي ډله وي.

۹. د اپریل پر لومړۍ نېټه دولت د سولې لپاره خپل لید لوري په یوه څپاره شوي سند کې نړیوالو مرستندویانو ته څرګند کړ. دغه سند د سولې یوې ټول شموله پروسې اړتیا په ډاګه کوي، څو جګړه پای ته ورسوي او د سیاسي اختلافاتو د حل کولو لپاره سره باوري اداري یو ځای کړي. سند دغه راز د سولې په عالي شورا کې د ساختاري بدلونونو او مختصر صلاحیت/ماموریت وړاندیز کړي. بالاخره حکومت د مۍ پر ۱۸ د سولې او پخلاینې د ستراتیژیک پلان طرحه نړیوالو مرستندویانو ته وړاندې کړه. دغه راز د اپریل پر لومړۍ نېټې ولسمشر غني د سولې د عالي شورا د دار الانشاء منصب ته نوي مشر وټاکه، کوم چې د ۲۰۱۶ د نومبر له ۱۹ راهیسې خالي و. د جون پر ۶ نېټه، ولسمشر غني د ولسمشر د پخواني مرستیال کریم خلیلي ګمارنه د سولې عالي شورا د نوي رییس په څیر اعلان کړه. که څه هم د دولت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو په اړه کوم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی.

۱۰. د افغانانو په مشرۍ د پراخې پروسې په زمینه کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د راپور ورکولو په موده کې په نهو مختلفو ولایتونو کې د سولې له روانو نهو ځایي نوښتونو سره مرسته کړې. د دغو نوښتونو له لارې، یوناما د شخړو او تربګنیو په دوامدار او سوله ییز حل کې د افغان ادارو لپاره تخنیکي او لوژیستکي ملاتړ برابر کړی. په حل شویو شخړو کې، د ځمکې پر سر شخړې، د لویو لارو امنیت، او دیني بنسټ پالنه شامل وه. د اپریل پر ۶ نېټه، یوناما د سولې په پروسه کې د ښځو د رول په اړه په هرات ولایت کې له یوه کنفرانس سره مرسته وکړه، په کوم کې چې له ۱۳ ولسوالیو څخه ۱۰۰ ګډونوالو برخه اخیستې وه. ګډونوالو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړه د هیواد د عمل د ملي پلان د پلي کولو لپاره د غښتلي عمل غوښتنه وکړه.

۱۱. حکومت د راپور ورکولو په موده کې د انتخاباتي تیاریو په اړه یو څه پرمختګ کړی. په اپریل کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د انتخاباتي مرکزونو د ارزونې بسته تایید کړه، کومه چې یو عملیاتي پلان، طرز العملونه او بودجه رانغاړي. دغه ارزونه د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون یوه سپارښتنه بشپړه او ترلاسه کوي. د مارچ پر لومړۍ نېټه، ولسمشر غني د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دار الانشاء منصب لپاره نوي رییس وټاکه، کوم چې د ۲۰۱۴ له جون راهیسې خالي و. په ورته وخت کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د نورو چارو ترڅنګ په کمیسیون کې د ښځو د استازیتوب د ښه کولو په موخه د جنډر پالیسي طرحه کول او د ګمارنې پروسه پیل کړه. په داسې حال کې

چې حکومت د روان لمريز کال په اوږدو کې کوم چې د ۲۰۱۸ په مارچ کې پای ته رسيږي ، د ټاکنو ترسره کولو ته خپل ژمنتوب بیا تایید کړ ، خو د انتخاباتي حوزو ، بودجې ، مهال ويش او د تمويل د نمونو په ګډون کليدي پريکړې لا تر اوسه نه دي ترسره شوي

۱۲. حکومت او د ټاکنو خپلواک کميسيون د راتلونکو ټاکنو لپاره د نوې ټکنالوژۍ د معرفي کولو لپاره د انتخابونو په پام کې نيولو جاري ساتلي. د مارچ پر ۱۱ نېټه ، د ټاکنو خپلواک کميسيون حکومت او مرستندويانو ته يوه تخنيکي خبرنه وړاندې کړه ، کومه کې چې دا په ګوته شوې چې د راتلونکو ټاکنو لپاره بايد نوې ټکنالوژي وکارول شي ، او په اپريل کې ، د ټاکنو خپلواک کميسيون يوه ازمايښي خبرنه ترسره کړه ، څو د نوې ټکنالوژۍ د معرفي کولو شونتيا وارزوي. حکومت او د ټاکنو خپلواک کميسيون د نوې ټکنالوژي د کارونې معرفي کولو لپاره د نوو لارو چارو په لټه کې دي.

۱۳. په مارچ کې ، حکومت تر اوږدې مودې وروسته د بريښنايي پېژند پاڼو په اړه يوې پريکړې ته ورسيد. د دغو پېژند پاڼو ويش په ۲۰۱۴ کې د ملي يووالي حکومت د جوړونې په اړه د سياسي تړون يو شرط و. د مارچ پر ۲۰ ، حکومت د عمل يو پلان تصويب کړ څو د پېژند پاڼو ويش پيل کړي. د اپريل پر ۲۲ ، ولسمشر غني د نفوسو د احوالو د قانون د تعديل په اړه ، چې په پېژند پاڼو کې د ملت او قوم کلمې ځای کړي ، يو تقنيني فرمان صادر کړ ، چې بيا وروسته د ولسي جرګې له خوا تصويب شو. د مئ پر ۱۳ نېټه ، يو ولسمشريز فرمان صادر شو ، چې د نورو چارو ترڅنګ ، د ۹۰ ورځو په دننه کې د پلان د ازمايښي پړاو د پيلولو غوښتنه کوي.

**ځلورم: امنيت**

۱۴. په افغانستان کې امنيتي وضعيت لا اوس هم په سخت ډول بې ثباته دی. يوناما د ۲۰۱۷ د جنوري او مارچ د پای ترمنځ ۵۶۸۷ امنيتي پېښې ثبتې کړي ، چې د ۲۰۰۱ کال راهيسې په دغه ورته موده کې ثبت شوی تر ټولو لوړ شمير دی. د مارچ او مئ د ۳۱ ترمنځ ، ملګرو ملتونو ۶۲۵۲ امنيتي پيښې مستند کړي ، کوم چې په ۲۰۱۶ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. د تاسيس شويو جرياناتو سره په سمون کې ، وسله واله جګړې د امنيتي پيښو زياتره برخه (۶۴ سلنه) او په تعقيب يې د لاس جوړ چاوديدونکي توکي (۱۶ سلنه) جوړوي. په ۲۰۱۶ کال کې د ورته مودې په پرتله هدفي وژنې او تښتونې ۴ سلنه راکمې شوي. ختيځې او جنوبي سيمې تر ټولو نارامه وې ، چې ختيځه سيمه کې د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله دغه ډول پيښې ۲۲ سلنه زياتې شوې. طالبانو خپل بريدونه پر بدخشان ، بغلان ، فراه ، فارياب ، هلمند ، کونړ ، کندز ، لغمان ، سرپل ، زابل او اروزګان ولايتونو متمرکز کړي. د لښکرګاه او شاو خوا ولسواليو کې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په وړاندې د طالبانو بريدونه د افغان ملي اردو له ځانګړو ځواکونو سره د نړيوالو ځواکونو د هوايي بريدونو د ملاتړ له لارې په شا وتمبول شول. د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د هوايي بريدونو شمير د پام وړ لوړ (۱۱۲ سلنه) و.

۱۵. د اپريل پر ۲۸ ، طالبانو د منصوري عملياتو په نامه د خپلو سپرلنيو يرغليزو عملياتو د پيلولو اعلان وکړ. په ۲۰۱۷ کال کې د هغوی اعلاميې د ملکي تلفاتو د راکمولو او په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو او د هغوی د افغان شريکانو د په نښه کولو د مشورې په ګډون ، يوه دوه اړخيزه تګلار چې نظامي او سياسي موخې رانغاړي توصيف کړه. له دې سره سره بيا هم د ملکي تلفاتو په شميرو کې کوم د پام وړ ښه والی نه دی تر سترګو شوی. د دغو عملياتو د اعلان پر ورځ ، طالبانو په بدخشان ولايت کې د ستراتيژيک اهميت درلودونکي ضيابک ولسوالي چې له پاکستان سره پوله لري ، ونيوله. ولسوالۍ څو اونۍ وروسته د افغان امنيتي ځواکونو له خوا بيرته ونيول شوه. د راپور ورکولو په موده کې ، طالبانو دغه په هلمند کې د سنګين ، په کندز کې د قلعه زال او په تخار کې د خواجه بهاؤ الدين ولسوالۍ په موقت ډول تر خپلې ولکې لاندې راوستې.

۱۶. د مارچ پر ۸ نېټه ، د هېواد په پلازمینه کابل کې د تر ټولو ستر نظامي روغتون په وړاندې یو ډله ییز برید ترسره شو. د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست ، په کوم کې چې د راپورونو له مخې ۵۰ نفر چې نږدې نیمه یې نظامي پرسونل (د ژغورل شوي یا له جګړې د لویدلو وضعیت لرونکي) و ووژل شول او د لږ تر لږه ۲۲ ولسي وګړو په ګډون ، ۸۸ نور ټپي شول. د اپریل پر ۲۱ نېټه ، طالبانو د بلخ ولایت په مزار شریف ښار کې د ملي اردو د ۲۰۹ لوا په وړاندې ډله ییز برید ترسره کړ ، چې له امله یې لږ تر لږه ۱۴۰ امنیتي ځواکونه ووژل شول او ۶۰ نور ټپي شول.

۱۷. د امریکا د متحده ایالاتو او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له خوا د ترسره شویو زیاتو عملیاتو سره سره د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د هېواد په ختیځ ولایت ننګرهار ولایت کې خپل شتون ساتلی. د اپریل پر ۱۳ نېټه ، د ستر هوایي بم په ګډون ، چې د راپورونو له مخې یې د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ګڼ شمیر غړي ووژل ، نړیوالو نظامي ځواکونو خپل عملیات جاري ساتلي. د مئ په لومړیو کې ، د دولت او د امریکا د متحده ایالاتو نظامي چارواکو تایید کړه چې د اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې مشر عبد الحسیب د امریکا د متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو له خوا د اپریل پر ۲۷ نېټه په ترسره شوې چاپه کې وژل شوی. د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د ولسي وګړو ، نظامي او بهرنیو نړیوالو اهدافو په وړاندې خپل بریدونه جاري ساتلي او نا تایید شویو ځایي سرچینو ادعا کړې ، چې نوموړې ډلې خپل جنګیالي او استخدام جاري ساتلی. دغې ډلې د مئ پر ۱۷ نېټه په جلال آباد کې د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون پر سټیشن د ډله ییز برید مسوولیت پر غاړه واخیست.

۱۸. د مئ پر ۱۳ نېټه ، یوه ځانمرګي بریدګر د هېواد په پلازمینه کابل کې ټرک بم وچاوه. چاودنې لږ تر لږه ۸۰ وګړي ووژل او ۴۶۴ نور یې ټپي کړل ، چې زیاتره یې ولسي وګړي وو. په کابل کې دغې سترې بمي چاودنې د پېښې سیمې کې شاوخوا ودانیو ته د یو شمیر ډیپلوماتیکو مرکزونو په ګډون ، چې یو شمیر سفارتونو خپل کارمندان له ودانیو اخراج کړي ، درونډ زیان اړولی. برید د څو ورځنیو لاریونونو لامل شو ، په کومو کې چې یو شمیر لاریون کوونکي د مشرانو جرګې د غړي د زوي په ګډون د ادعاوو له مخې د امنیتي ځواکونو له خوا ووژل شول. د لومړنیو معلوماتو له مخې د تاوتریخوالي په زیاد شوې دوران کې ، د وژل شویو د جنازې په مراسمو کې یوه ځانمرګي بریدګر شپږ ملکیان ووژل او ۸۷ نور یې ټپي کړل.

۱۹. په فبروري کې په ترتیب سره له ۸۶ او ۹۴ سلنې څخه ، د اپریل په وروستیو کې د افغان ملي ادرو او افغان ملي پولیسو د پرسونلو رسمي شمیر د پلان شویو کچو له مخې په ترتیب سره ۹۰٫۴ او ۹۵٫۱ سلنه وو.

۲۰. د تهدیدونې د یوې پېښې ، د لاس جوړ چاودیدونکو اړوند د یوې پېښې او پنځو جنایي پیښو په ګډون ، ټولټال ۱۱ داسې پېښې ثبتې شوي چې ملګري ملتونه یې اغیزمن کړي ، د وسله والې شخړې یا تښتونې کومه پېښه نه ده ثبت شوې.

**پنځم: سیمه ییزه همکاري**

۲۱. د راپور ورکولو په موده کې ، څرنګه چې یې زما په تیر راپور کې یادونه شوې ، د ۲۰۱۶ له وروستیو راهیسې د ۲۰۱۷ تر لومړنیو پورې د کړکیچنې مودې را وروسته ، د افغان او پاکستان دولتونو له خوا د اړیکو د ښه کولو لپاره هڅې ترسره شوې. د مارچ پر ۲۱ ، پاکستان په تورخم او سپین بولدک کې خپلې رسمي پولې کومې چې د فبروري له

۱۷ نېټې څخه ترلې وې ، بیرته پرانیستې ، که څه هم پولې د راپور ورکولو په موده کې په نامنظم ډول کله پرانستې او کله ترلې وې. د مارچ پر ۱۵ او ۱۶ ، بریتانیا او شمالي ایرلینډ د لوړې کچې دوه اړخیزو خبرو اترو کوربه وو ، چې د افغانستان د ولسمشر د ملي امنیت مشاور حنیف اتمر او په بهرنیو چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر مشاور سرتاج عزیز په کې ګډون کړی و ، چې موخه یې د باور جوړول و او د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولې په اړوندو کې د میکانیزم پر جوړولو تمامې شوې. که څه هم کړکیچ تر یوه بریده د پاکستان له خوا پر پوله د اغزن سیم د لګولو او د پولې په اوږدو کې د ډزو له امله اوس هم روان دی. په یوه مثبت پرمختګ کې د پاکستاني پارلمان یو پلاوي د دغه پارلمان د رییس په مشرۍ کابل ته را ورسید د اپریل له ۲۹ د مئ تر لومړۍ نېټې پورې یې له خپلو افغان سیالانو سره لیدنې کتنې ترسره کړې. دغه پلاوي همدارنګه له ولسمشر غني او نورو چارواکو سره ولیدل. تر دې لیدنې لږ څه وروسته ، د پاکستان د آی ایس آی مشر له کابل څخه لیدنه وکړه او ولسمشر غني او نورو لوړ پوړو چارواکو سره یې کتنه وکړه. د دوه اړخیزو اړیکو د ښه کولو لپاره دغه هڅې یو ځل د مئ پر ۵ هغه مهال اخلال شوې کله چې د دواړو هیوادو ساتونکو د سپین بولدک پولې ته څېرمه د یوې لانجمنې سیمې په دوو کلیو کې پاکستاني چارواکو له د سر شمیرنې پر سر شخړه وکړه. تر موافقه شوي اور بند وروسته جګړه پای ته ورسیده او د شخړې د حل لپاره په سیاسي کچه هلې ځلې رواني دي.

۲۲. یو شمیر دوه اړخیز او څو اړخیز نوښتونه اوس هم روان دي. د مارچ پر ۱۶ ، د روسیې فدراسیون او د تاجکستان د بهرنیو چارو وزیرانو سره په دوشنبې ښار کې ولیدل څو په افغانستان کې د نظامي- سیاسي وضعیت او د روسي- تاجک د پیاوړې شوې همکارۍ د لید لور په اړه سره خبرې اترې ترسره کړې. د اسیا زړه د لوړ پوړو چارواکو ناسته د مارچ پر ۱۷ په باکو کې ترسره شوه ، په کومه کې چې ګډونوالو د اسیا زړه- استانبول پروسې له لارې د اقتصادي او امنیتي همکارۍ د تقویه کولو لپاره خپلې ژمنې بیا تایید کړې. د مئ پر ۲۵ د افغانستان لپاره د ځانګړې استازي د ګمارنې په ګډون ، ازبکستان په افغانستان کې خپل ګډون او ښکیلتیا زیاته کړې. د اپریل پر ۴ او ۵ د روسیې له فدراسیون څخه د لیدنې پرمهال ، د ازبکستان ولسمشر شوکت میرازیوف په ډاګه کړه ، چې په افغانستان کې سوله باید د خبرو اترو له لارې ترلاسه شي. په اپریل کې ، قزاقستان په استانا کې له افغانستان سره د سیاسي سلا مشورو دویم دور ترسره کړ. د اپریل پر ۱۴ ، د روسیې فدراسیون د افغانستان په اړه په مسکو کې د یوه کنفرانس کوربه و ، چې چین ، هندوستان ، ایران ، قزاقستان ، قرغزستان ، پاکستان ، د روسیې فدراسیون ، تاجکستان او ازبکستان په کې ګډون کړی و. په نورو ګډونوالو کې ترکمنستان او د امریکا متحده ایالات شامل وو. ګډونوالو د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د مستقیمې خبرو اترو پر اړتیا ټینګار وکړ. تر کنفرانس وروسته ، د اپریل پر ۱۵ ، د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت ویاند خپله اراده په ډاګه کړه ، چې په کابل کې به د راتلونکو خبرو اترو کوربه وي ، او حکومت د پراخې کچې له ګډون سره د کنفرانس لپاره د تیاریو نیول پیل کړي ، کوم چې باید د جون پر ۶ نېټه ترسره شوی وای. د شانګهاي د همکارۍ سازمان د وزیرانو کچه سرمشریزه د اپریل پر ۲۱ په استانا کې ترسره شوه ، د کومې په ترڅ کې چې ګډونوالو په افغانستان کې د شخړې د ښکیلو خواوو ترمنځ د سیاسي ډیالوګ د پیلولو لپاره د سازمان ژمنه بیا تایید کړه.

### شپږم: بشري حقونه

۲۳. د اپریل پر ۲۷ نېټه ، یوناما خپل د ۲۰۱۷ کال د لومړۍ ربع د جګړې اړوند د ملکي تلفاتو د ارقامو راپور خپور کړ. د جنوري د لومړۍ او مارچ د ۳۱ ترمنځ ، یوناما ۲۱۸۱ ملکي تلفات (۷۱۵ مړه او ۱۴۶۶ ټپي) مستند کړي ، چې په ۲۰۱۶ کال کې د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه کموالی ورلاندې کوي کوم چې په ملکي مړینه کې دوه

سلنه کموالي او په ژوبله کې پنځه سلنه کموالی جوړوي. یوناما د ملکي تلفاتو ۶۲ سلنه دولت ضد عناصرو ، ۲۱ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته او ۹ سلنه ځمکنیو نښتو ته چیرې چې عاملین نه دي مشخص شوي ، منسوب کړي. د پاتې ۸ سلنې زیاتره برخه د نا منسوب شویو چاودیدونکو توکو چاودنې ته منسوب شوې. ځمکنیو نښتو(۳۵ سلنه)، په تعقیب یې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو (۱۹ سلنه) او ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو (۱۷ سلنه) زیاتره ملکي تلفات اړولي. د ښځو په تلفاتو (۸۸ مړې او ۱۸۵ ټپي) کې ۲۴ زیاتوالي او د ماشومانو په تلفاتو (۲۱۰ مړه او ۵۲۵ ټپي) کې ۱۷ زیاتوالی د ځانګړې اندېښنې وړ دي. د ښځو او د ماشومانو تلفات په عمده ډول د هوایي عملیاتو ، د لاس جوړ چاودیدونکو توکو او د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو د اغیز له امله زیات شوي.

۲۴. له جګړې ځخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو د راکمونې د یوه واقعي اقدام په څیر ، یوناما د دولت له خوا د مشخصو عنعنوي وسلو د کارونې کومې چې ښایي زیاتې ژوبلونکې یا د بې توپیر اغیز درلودونکي وي د منع یا محدودیت د کنوانسیون د پنځم پروتوکول د تاییدولو هرکلی کوي ، او له ټولو ښکیلو خواوو یې غوښتي چې د هغوي تر ولکې لاندې سیمو کې د چاودیدونکو توکو ککړې ساحې نښاني ، پاکې او له جګړې ځخه پاته شوني چاودیدونکي توکي لرې او له منځه یوسي. یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو ، دولت ضد عناصرو او نړیوالو نظامي ځواکونو په ګډون ، د جګړې له ښکیلو خواوو سره د مدافعه کولو ناستې جاري ساتلي ، ځو د بشرپالنې نړیوال قانون ته درناوی بسیج کړي او زیان ځخه د ملکي وګړو د ساتنې لپاره غښتلي ګامونه پورته کړي.

۲۵. ماشومان لا اوس هم په غیر تناسب ډول د جګړې له کړاو سره مخ دي. د جنوري د لومړۍ او مارچ د ۳۱ ترمنځ ، یوناما ۳۸۴ پیښې تایید کړي چې د ماشومانو د ۷۳۵ تلفاتو (۲۱۰ مړه او ۵۲۵ ټپي) لامل شوي او د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی وړاندې کوي. ماشومان د ټولو تلفاتو ۳۴ سلنه جوړوي. د ۲۰۱۷ کال په لومړیو دریو میاشتو کې ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل دی ، چې د ماشومانو د ټولو تلفاتو (د ماشومانو د ۳۱۲ تلفاتو) ۴۲ سلنه جوړوي ، په تعقیب یې له جګړې ځخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو (د ماشومانو د ۱۶۴ تلفات ؛ ۲۲ سلنه) او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو (د ماشومانو ۱۱۴ تلفات ؛ ۱۵ سلنه) اړوند پیښې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لاملونه دي. د ناچاودو توکو د ټولو قربانیانو ۸۱ سلنه هغه ماشومان دي.

۲۶. د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري د ماشومانو د ګمارنې او کارونې په تړاو ، یوناما د طالبانو له خوا د ۹ ، د افغان ملي پولیسو له خوا د ۲ ، د افغان سرحدي پولیسو له خوا د ۱او د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د ۱ په ګډون ، د ۱۳ هلکانو ګمارنه تایید کړې. یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د تښتونې درې پیښې چې پنځه هلکان په کې شامل وو او د دوو هلکانو په وړاندې د جنسي تیري دوه پیښې تایید کړي. د اپریل تر ۱۰ نېټې پورې ، د دولت ضد عناصرو له وسله والو ډلو سره د اړیکو ، ملي امنیت د تورونو په تړاو ۱۳۵ ماشومان توقیف شوي ، او په ناوړه وضعیت او د لویانو د حد اکثر امنیت د توقیف په مرکز کې په پروان ولایت کې توقیف شوي. د روغتیایي او ښوونیزو مرکزونو او کارمندانو د ساتنې په تړاو ، د جنوري د لومړۍ او مارچ د ۳۱ ترمنځ ، د ۲۰۱۶ کال د راپور مودې ته ورته ۱۴ داسې پیښې تایید شوي چې پوهنه یې اغیزمنه کړې. یوناما دغه راز ۱۷ ښوونځي مستند کړي ، چې د نظامي موخو لپاره کارول شوي. یوناما د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې د ۳۱ پیښو په پرتله د راپور ورکولو په موده کې د ۱ پیښې په ثبتولو سره د نظامي موخو لپاره د کلینیکونو په کارونه کې کموالی ملاحظه کړې. د ملکي تلفاتو د ځارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ځواک ، د بشري لاس رسي د مخنیوي اوه پیښې ، چې پنځه یې طالبانو او دوه یې نامعلومو وسله والو ډلو ته منسوب شوي ، مستندې کړي.

۲۷. د اپریل پر ۲۴ ، یوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د هیواد د ملي پلان د تطبیق په اړه ګډه راپور خپور کړ ، چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري او د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر

ترمنځ موده تر پوښښ لاندې نیسي. له ۴۶۹ مرکه شویو توقیفیانو څخه ، ۳۹ سلنه یې داسې باوري معلومات ورکړي ، چې د ملي امنیت د ریاست او د افغان ملي پولیسو له خوا په مختلفو اداره کیدونکو توقیف ځایونو/مرکزونو کې د توقیف او پوښتنو او ګرویګنو پر مهال له شکنجې یا د ظالمانه ، غیر انساني او سپکاوي ډک چلند له نورو شکلونو سره مخ شوي. د راپور تر خپریدو مخکې ، حکومت د شکنجې په وړاندې په کنوانسیون خپل ریزیرویشن بیرته واخیست او کابینې په اصولو کې د شکنجې په وړاندې د کنوانسیون د الحاقي پروتوکول لاسلیک تایید کړ. تر دې وروسته ، ولسمشر د پیشګیرانه میکانیزم د رامنځ ته کولو حکم وکړ. د مئ پر ۱۲ ، د شکنجې په ضد کمیټې د افغانستان پر مهالني دویم راپور باندې په خپلو وروستیو ملاحظاتو کې ، د شکنجې د پراخې کارونې ، ناوړه چلند او د معافیت د کلتور د تورونو په اړه خپله ژوره اندیښنه په ډاګه کړې. نوموړې کمیټې پر افغانستان غږ کړی څو یقیني کړي چې ټول تورونه په چټک ، بشپړ او بې پرې ډول څیړل شوي او تورن عاملین محاکمه شوي.

۲۸. د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی دوام لري. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسون کلنۍ راپور ، چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ د میاشتې څخه د ۲۰۱۷ کال تر مارچ پورې موده تر پوښښ لاندې نیسي چې د مارچ په ۸ نیټه خپور شو ، په ټول هیواد کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د قضیو په شمیر کې د ۸٫۶ سلنې زیاتوالي یادونه کوي چې د هیواد په کچه د یاد کمیسیون د دفترونو له خوا ثبت شوی . د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی د له منځه وړلو په اړه د ځانګړي څارنوال په حواله ، په ټول هېواد کې د څارنوالۍ سره ټولټال ۲،۴۴۲ قضیې راجستر شوي دي ، او په ټولټال ۱۴۹ قضیو پریکړه صادره شوې. د راجسټر شویو ۲۲ سلنه دوسیو څخه یا خو انصراف شوی او یا د شکایت کوونکو لخوا ندي تعقیب شوي. په ۱۱ ولایتونو کې د ښځو پر وړاندې د خشونت د له منځه وړلو کمیسیونونه تاسیس شوې دي. د ښځو د چارو د وزارت او مدني ټولنې د سازمانونو د سپارښتنو په تعقیب چې موخه یې د یاد قانون د مسودې بیاکتنه و ، د ښځو او ماشومانو پر وړاندې د ځورونې د له منځه وړلو د قانون مسوده د ولسمشر لخوا نه ده تایید شوې.

۲۹. د مارچ په ۲ ، د جزا بیا کتل شوی قانون د یوې څلور کلنې شفافې او شاملونکې پروسې وروسته د یوه تقنیني فرمان په واسطه تصویب شو. ولسمشر یاده مسوده د مارچ په ۴ نیټه تصویب او په رسمي جریده کې چاپ شوه. د یاد فرمان د خپریدو د نیټې څخه وروسته د جزا د قانون د بیاکتل شوې نسخې تطبیق د نهو میاشتو لپاره وځنډول شو ، ترڅو امنیتي او قضایي سکتورونو ته د دې اجازه ورکړي چې په دې برخه کې لازمې روزنې ترلاسه کړي او همداراز عامو وګړو ته د قانون د بیا کتل شوې مسودې په اړه معلومات ورکړي چې د ۱۹۷۶ کال د جزا د قانون د تصویب راهیسې په له پنځوسو څخه زیاتو خاصو قوانینو کې جرمونه سره یو ځای کوي. دا قانون د هیواد د ټرون ټولې ا ساسي ژمنې سره متحدوي ، د بیلګې په توګه ، د اداري فساد ، جنګي جرمونو ، د بشریت او ټول وژنې پر وړاندې د جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون لاندې د ټولو اجباري جرمونو په شمول ، او د ملکي سرپرستانو یا پوځي قومندانانو پر وړاندې د جزایي مسولیت په شمول ، څوک چې د مادونانو د مخنیوي او سزا ورکولو په برخه کې پاته راغلي ، چا چې د روم د اساسنامې لاندې دغه جرمونه ترسره کړې او د ځمکو د غصب مخه نه ده نیولې. داهمدارنګه د ۱۹۷۶ کال د جرم د شکنجې تعریف ته د دې لپاره وسعت ورکوي څو د کنوانسیون سره مطابقت پیدا کړي. دا قانون د جنسي تیري یو پرمختللی تعریف وړاندې کوي ، د دې لپاره چې دجندر بې طرفي وساتله شي ، نو د رضایت او محرمیت ، وقار او جسماني بشپړتیا د ساتنې نویو تعریفونو ته اړتیا لري. دا د هغو جرمونو شمیر ۷۴ سلنه راټیټوي کوم چې د اعدام له مجازاتو سره تړاو لري.

۳۰. حکومت د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک د تطبیق لپاره د (۵۲ میلیونو امریکایي ډالرو) بودیجې نوې وړاندیز شوې نسخه وړاندې کړه. د مارچ په میاشت کې د حکومت او نړیوالې ټولنې یوه وړه ګډه کاري ډله تشکیل شوه څو د اړوندو وزارتونو په واسطه د فعالیتونو او بودیجې څخه

بیاکتنه وکړي څو د پلان لپاره د تمویل په موخه میکانیزمونه را منځ ته کړي. د اپریل په ۱۸ ، حکومت د ۲۰۱۷-۲۰۲۱ کلونو لپاره له وخت نه وړاندې ودونو او د ماشومانو د ودونو د له منځه وړلو لپاره د عمل ملي پلان پیل کړ.

۳۱. د رسنیو کارکونکي او د مدني ټولنې فعالان د حکومت ضد عناصرو له خوا په دوامداره توګه د ګواښ او بد چلند سره مخ شوې. د محلي چارواکو له خوا د همکاري نه شتون ، د مدني ټولنې د فعالینو د کار په برخه کې د هغوي فرصتي مداخله هم ، د راپور ورکولو د مودې پر مهال ثبت شوې. یوناما په بغلان ، ننګرهار او کابل ولایتونو کې د مدني ټولنې د فعالانو د ډار او وژنې څلور قضیې ثبت کړې. په اپریل کې ، یوناما تر ګواښ لاندې کابل ته د بشري حقونو د یوه مدافع د بیا یو ځای کولو په برخه کې مرسته کړې. د می په ۷ ، په موټرسایکل سپرو دوو نا پیژاندو ټوپکوالو د پلخمري په ښار کې یو نامتو خبریال ، سیاستوال او د بشري حقونو فعال په ډزو وویشت او وواژه. د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې ، د افغانستان د ملي رادیو او تلویزیون د رسنیو پنځه تنه کارکونکي د مي د ۱۵ نیټې په پورته یاد شوې برید کې ووژل شول د کوم مسولیت چې داعش واخیست.

**څلورم. د کابل د بهیر تطبیق او د پراختیایي مرستو همغږي**

۳۲. حکومت د هیواد د پام وړ اقتصادي ننګونو د ځوابولو په موخه دوامداره هڅې ترسره کړې. د مارچ په ۴ مه ، د پیسو نړیوال صندوق او افغان چارواکو د هیواد د اعتباري تسهیلاتو د تمدید د پروګرام د لومړنۍ بیاکتنې چارې بشپړې کړي. بیاکتنې د ۲۰۱۶ کال لپاره د ۲ سلنې ودې اټکل کړی چې دا د مخکنیو اټکلونو په پرتله یو څه لوړه ده. د مناسبو کرهنیزو محصولاتو په واسطه د ۲۰۱۷ کال لپاره ۳ سلنه زیاتوالی اټکل شوی. د وجهي صندوق کارکونکو د محتاطانه لوی اقتصادي مدیریت او د ننګونو څخه په ډک چاپیریال کې د جوړښتي اصلاحاتو په اړه د غښتلي پرمختګ ستاینه وکړه. د مارچ په ۴ مه ، د هیواد مرکزي بانک اعلان وکړ چې حکومت په ریښتینې توګه د عمل د پلان تخنیکی اړخونه ځواب کړي څو د پیسو مینځلو او د تروریزم د مالي تمویل کولو سره د مبارزې په موخه په خپل چوکاټ کې ښه والی راولي. د حکومت تر منځ د مالي عمل کاري ځواک په کابل کې د اپریل په ۱۱ او ۱۲ یوه ساحوي لیدنه ترسره کړي څو په هیواد کې هغه پرمختګ کوم ته چې کاري ځواک د لوړې کچې د خطر د صلاحیت په توګه ګوري ، وارزوي. د لیدنې څخه تر لاسه شوې سپارښتنې به د راتلونکې پریکړې په اړه چې آیا افغانستان به په راتلونکي کې لا زیات نظارت ته اړتیا ولري ، اطلاع ورکړي.

۳۳. د افغانستان په اړه د بروکسل د کنفرانس د چارو تعقیب چې د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر میاشت کې ترسره شو ، د افغانستان د حکومت او تمویل کونکو هیوادونو لپاره یو لومړیتوب دی. دولت خپلو هڅو ته دوام ورکړ تر څو د ۱۰ سکتورونو لپاره د ملي لومړیتوبونو په ۱۰ پروګرامونو کې خپل پراختیایي لومړیتوبونه ، لکه څنګه چې یې د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ کې اټکل شوی تشریح کړي. د مارچ په ۸ ، حکومت د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا ملي لومړیتوب پروګرام پیل کړ. د اپریل په ۴ ، د اقتصاد او مالیي وزارتونو بسپنه ورکوونکو ته هغه پلانونو تشریح کړل څو د ملي لومړیتوب په پروګرامونو کې پایښت لرونکې پراختیایي موخې شاملې کړي.

۳۴. د افغانستان د مالي کال د لمړیو دری نیمو میاشتو لپاره (د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر د ۲۱ نه د ۲۰۱۷ کال د اپریل تر ۸) د حکومت د بودیجې د اجرا راپور د تیر کال د ورته مودې (د دواړو کلونو لپاره ۱۴ سلنه) په پرتله د مصرف شوې بودیجې په فیصدي کې ښه والی نه دی په ډاګه کړی. که کره ووایو نو د بودیجې لګښتونه ۳۷,۳ میلیون ډالره راټیټ شوې. ټولټال تخصیص یا د لګښت واک ۵. ۲ بیلیونه ډالره وه ، چې ۷۳۱ میلیون ډالره راټیټ شوی. هغه سکتورونه چې د کمښت له امله تر ډیره بریده متاثره شوي ، هغه سکتورنه زیربنا ، طبعي زیرمې ، ټولنیز تحفظ ، امنیت او اقتصادي حکومتولي ، د کرنې لپاره لګښت ، د کلیو بیارغونه او پراختیا او معارف دي ، خو د روغتیا لګښت د تیر کال په پرتله نسبتا لوړ و. د ملي بودیجې د ښې اجرا لپاره ، حکومت د هر ولایت لپاره ټولټال ۱

میلیون ډالر اختصاص کړي څو په څلورو سکتورونو (روغتیا ،معارف ، کلیو بیا رغونه ، پراختیا او کرنه) کې په مصرف ورسول شي. دا تخصیص به د ولایتي بودیجوي پالیسۍ د پلې کولو لپاره کوم چې د اپریل د میاشتې په ۱۹ نیټه پیل شو ، د یوه ازمایښت په حیث کار کوي. په پای کې ، حکومت تمه لري د دولت د بودیجې ۴۰ سلنه د سیمه ایزو چارواکو لخوا مصرف شي.

۳۵. د اپریل په ۲۵ ، یوناما د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې خپل لومړی راپور خپور کړ ، کوم چې د حکومت له خوا د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ترسره شویو هڅو تصدیق کوي ، په دې بیلګې کې لاندې شاملې دي ، د حکومتولي ، عدالت او اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د عالي شورا او د اداري فساد پر وړاندې د عدلي مرکز تاسیس ، د لوړې کچې د یوې کمیټې را منځ ته کول څو وکولای شي د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ملي ستراتیژۍ په تړاو کار وکړي ، د عوایدو د را منځ ته کولو د پنځو کلیدي وزارتونو له خوا د ادري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلانونو بشپړول ، د عامه مالي مدیریت په تړاو د کنترول د ښه کولو په برخه کې پرمختګ ، او د تدارکاتو په ملي بهیرونو کې لا شفافیت. راپور د کلیدي اصلاحاتو د لا موثره پلې کولو ، د بیلګې په توګه ، د وړتیا پر بنسټ د عامه سکټور استخدام ، د عایداتو راغونډول او د بودیجې د اجرا او د قوي نظارت او همغږۍ د پلې کولو سپارښتنه کړې. د ۲۰۱۶ کال په نومبر کې د یاد مرکز د لومړۍ محکمې راهیسې ، د اداري فساد پر وړاندې عدلي مرکز د ابتدایي محکمې په ۱۴ دوسیو پریکړې صادري کړې ، ۴۰ تورن کسان یې مجرم شمیرلي او د هغو دوسیو په شمول په کومو کې چې د بډې اخیستو ، اختلاس او د عدالت د مخنیوي په موخه د رسمي واک څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په هدف لوړ پوړې چارواکي شامل وو ، د استناف ۱۰ دوسیې تصدیق کړي. د راپور ورکولو د مودې پر مهال د یاد مرکز څارنوالانو د څیړنو لپاره ټولټال ۹۶ دوسیې منلې ، چې زیاتره یې په اوس حال کې د هغوي له خوا په رسمي توګه څیړل کیږي.

۳۶. وروسته له هغه چې افغانستان د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر په میاشت کې د نړیوال پرانیستي دولت د شراکت سره یو ځای شو ، حکومت د مدني ټولنې د لویو شبکو سره په همغږۍ کې د پوهاوی د دریو ناستو لپاره اسانتیاووي برابرې کړې ترڅو د پرانیستې حکومت د شراکت په شپږو کاري ګروپونو کې ، د بیلګې په توګه ، مالي او عدلي سیسټم د لاسرسي ، اطلاعاتو ته د لاسرسي ، اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ، اطلاعاتو او طبیعي زیرمو ته د لاسرسي په اړه ، د مدني ټولنې رول او استازیتوب ته وده ورکړي.

۳۷. د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو د شمیر د زیاتوالي په موخه زیاتې هڅې ترسره شوې. د اپریل د میاشتې په ۲۴ ، ټولټال ۲۴۵ ښځینه پولیسو د روزنې یو دوه میاشتنی کورس بشپړ کړ او د هغوي د تعلیمي کچو په نظر کې نیولو سره په دندو وګمارلې شوې. د پولیسو په لیکو کې د ښځینه پولیسو افسرانو ټولټال شمیر اټکل دوه سلنه ده. د پولیسو ملکي کول هم دوام لري. د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ملکي کولو لپاره د ۱۹۱ اختصاص شویو بستونو څخه ، د راپور ورکولو د مودې پرمهال ۵۷ بستونه او همداراز تر اوسه پورې ۱۱۷ پوستونه ډک شوي. د اپریل په میاشت کې ، د لوړو زده کړو وزارت د ملي پولیسو اکاډمۍ ته د پوهنتون موقف ورکړ ، او د پوځي پوهنتون زده کونکو ته یې د پیژندل شوي تحصیلي درجې د ترلاسه کولو اجازه ورکړه.

**پنځم. د بشر بالنې مرستې**

۳۸. رواني شخړې په دوامداره توګه د پام وړ بې ځایه کیدنې او ساتندویه خطرونو ته لار هواره کړې. د هیواد د ۳۴ ولایتونو څخه د ۲۹ ولایتونو د بې ځایه کیدنې د ځینو کچو په درلودلو سره ، د جنوري او مي د میاشتې د نیمایې نیټو تر منځ ، د هیواد په کچه د ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات نوي داخلي بې ځایه شوي کسان بې ځایه شویدي. د کندز ،

بغلان ، کندهار ، ارزګان ، ننګرهار او فاریاب په ولایتونو کې د ۶۰۰۰ راپور شویو کسانو په درلودلو سره ، د هیواد شمال ،شرق او غرب په ورته ډول متاثره شوي. د ملګرو ملتونو او نا دولتي سازمانونو له خوا متاثره شویو کورنیو ته بشري مرستې ، چې په هغو کې بیړني خوراکي توکي ، سرپناه او غیر خوراکي توکي ، نقدي پیسې ، روغتیایي خدمتونه او توکي شامل و ، برابري شوې. د ځمکې په اړه د افغانستان د اراضي تر مستقلې ادارې لاندې ، د دولت تخنیکي کاري ډلې د بې ځایه شویو کسانو لپاره د مناسبې ځمکې او کور جوړولو د پېژندلو او برابرولو په موخه یو نوی حقوقي چوکاټ را منځ ته کړ. پدې چوکاټ کې هغه معیارونه شامل دي څو د ټولې تخصیص شوې ځمکې د مناسبوالی د یقیني کولو څخه ډاډ حاصل کړي او همدارنګه د غوښتونکو د وړتیاوو ارزونه وکړي.

۳۹. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د بیرته ستنیدو پروګرام د اپریل په دریمه بیا په کار پیل وکړ ، له هغه وروسته ټولټال ۲۴۴۱۴ راجستر شوي افغان کډوال د پاکستان څخه افغانستان ته را ستانه شوي ، د هغوي د سملاسي بشري اړتیاوو د پوره کولو لپاره هر شخص ۲۰۰ امریکایي ډالره ترلاسه کوي.

۴۰. د مارچ د څلورمې او د مې د ۲۰ نیټو تر منځ د ټولټال ۵۰۹۸۵ کسانو په را رسیدلو سره (په خپله خوښه ټولټال ۵۰۲۵۴ راستانه شوي کسان او ۷۳۱ شړل شوي) چې په ۲۰۱۷ کال کې د پاکستان څخه د ټولو راستانه شویو کسانو ۸۳ سلنه جوړوي ، د پاکستان څخه د نا راجستر شویو افغان کډوالو شړلو او په خپل سر بیرته راستنیدنې دوام درلود. د جنوري د لومړۍ نیټې راهیسې ، د پاکستان څخه د نا راجستر شویو راستنیدونکو ټولټال شمیر ۶۰۲۲۶ تنو ته لوړ شو چې دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د راستنیدونکو کسانو نږدې دوه برابره شمیر دی. د خوندي فضا د خرابیدو له امله له پاکستان څخه د بیرته ستنېدنې لړۍ دوام درلود. د راپور ورکولو د مودې پر مهال ، د کډوالي لپاره نړیوال سازمان د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ټولټال ۸۱۰۹۹ ستندنې (۲۰۵۰۲ په خپله خوښه ستنیدنې او ۶۰۵۹۷ شړل شوې ستنیدنې) مستندې کړې. دې سازمان د راپور ورکولو د مودې پر مهال د پاکستان او ایران څخه په ترتیب سره د ټولټال ۳۷۳۴۴ ستنیدونکو (۷۳ سلنه) او ۲۷۰۹ راستنیدونکو سره (۴ سلنه) مرستې ترسره کړي دي. د مارچ د میاشتې د لومړۍ څخه د مې تر ۲۴ نیټې پورې ، د مهاجرت نړیوال سازمان همدارنګه د اروپا څخه هیواد ته د ټولټال ۱۰۹۵ راستانه شویو کسانو (د ۲۰۱۶ کال لپاره د ورته مودې د ۲۴۳۲ راستانه شویو کسانو په پرتله) سره مرستې کړي.

۴۱. د طورخم او سپین بولدک د اوښتو راوښتو د سرحدي پولو د موقتي تړلو د درملو ، تعلیمي توکو ، د مرستې ، خوراکي توکو په شمول د زرګونو ګټه اخیستونکو د اساسي بشري توکو رسول د ځنډ سره مخ کړې. د دې پولو د تړلو په پایله کې په ځانګړي توګه د پنځو کلونو څخه د ټیټ عمر درلودونکو ماشومانو لپاره د ځانګړو خوړو رسول متاثره شوي چې دې چارې په خپل وار سره د ټولټال ۱۱۰۰۰ ماشومانو لپاره د خوارځواکي معمولي درملنه د ځنډ سره مخ کړې. د افغانانو د راستنیدنې دوامداره هجوم او په جلال اباد او کابل ښارونو کې د اوسیدلو لپاره د هغوي تمایل هم د موجوده سرچینو پر سر فشار اضافه کړی او د ښار پالنې د چارو د شریکبانو ظرفیت پراخ کړی. د کنړ ، لغمان او ننګرهار د ولایتونو په کچه په اوس حال کې نږدې ۲۰ سلنه وګړي راستنیدونکي (اټکل ۵۰۰۰۰۰) کسان دي. د اوږدمهاله هڅو په حیث چې موخه یې په ټولنو کې د راستنیدونکو ادغام او د داخلي بې ځایه شویو کسانو تنظیمول دی ، د مارچ په ۱۹ ، ملګرو ملتونو ، حکومت او تمویل کونکو هیوادونو د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو کسانو لپاره د پالیسۍ د چوکاټ تر چتر لاندې د عمل یو جامع پلان تصویب کړ څو د شخړې څخه په متاثره شویو سیمو کې د ملکي کسانو د ساتنې ، د سملاسي بشري مرستو برابرولو ، اسناد جوړولو ، اساسي خدمتونو ته د لاسرسي ، د ځمکې د اختصاص او مناسبې کور جوړونې په اړه تمرکز وکړي.

۴۲. د ۲۰۱۷ کال په لومړیو دریو میاشتو کې ، د ملګرو ملتونو ادارو او د بشري چارو شریکبانو د ۷. ۵ میلیون پلان شویو وګړو له جملې څخه ۳. ۱ میلیون وګړو ته مرستې رسولې. که څه هم ، د بشردوستانه لاسرسي په اړه د محدودیتونو ریکارډول ادامه لري ، د ټولټال ۷۳ پیښو په درلودلو سره چې ملګري ملتونه او د بشر پالنې شریکبانې متاثره کوي د مارچ د لومړۍ او د مي د ۲۴ نیټو تر منځ ریکارډ شوې. په راپور شویو پیښو کې د یوه مرستندویه کارکونکي مړینه او د ۱۱ مرستندویه کارمندانو تښتول او د دوو نورو ټپي کیدل شامل دي. د ټولو ثبت شویو پیښو ۲۶ سلنه د روغتیایي کارکوونکو پر وړاندې په روغتیایي مرکزونو کې ثبت شوې دي. د بې ځایه شویو کسانو شمیر چې په نه لاسرسي وړ سیمو کې اوسیږي مخ په زیاتیدو دي چې دا په ۲۰۱۷ کال کې د نویو داخلي بې ځایه شویو کسانو ۲۲ سلنه (۲۱۸۲۷) جوړوي. په خورا ناامنه ولسوالیو کې چې په بشپړه توګه د حکومت تر کنترول لاندې نه دي د بې ځایه شویو خلکو اړتیاوو ته ځواب ویل ډیره لویه ننګونه ده. د کندز د ولایت څخه د باندې د پولیو د ناروغۍ د شیوع په تعقیب طالبانو د ګوزڼ د کمپاین لپاره د لاسرسي د برابرولو په موخه او همدارا‌ز د بغلان ولایت د نه لاسرسي وړ په پخوانیو ولسوالیو کې د شخړو له امله د بې ځایه شویو خلکو د ستونزې د حل په موخه په خبرو اترو کې د ښکیلتیا په موخه یوه اندازه تمایل څرګند کړی.

۴۳. د مې په ۲۱ ، په افغانستان کې د بشردوستانه عمل لپاره ټولې مرستې ۲۱۳ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیدلې ، چې له دې جملې ۱۱۵ میلیون ډالر د بشري فعالیتونو په پلان کې د شامل شویو فعالیتونو لپاره وو.

۴۴. د ماین پاکۍ خدمتونو او د ماین پاکۍ شریکبانو د پیسو د ورکړې او ترانزیت په مرکزونو کې د خطر په اړه د روزنو او زده کړې چارو ته دوام ورکړ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د پاکستان او ایران د اسلامی جمهوریت څخه راستانه شوي کډوال د ځمکنیو ماینونو ، د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو او د فشار په ذریعه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د خطر او شتون څخه خبر شي. د مارچ د لومړۍ څخه د اپریل تر ۳۰ ، ټولټال ۹۲۴۶۶ راستانه شویو کډوالو دا ډول روزنې ترلاسه کړې. د دې سربیره ، د ماین پاکۍ شریکبانو د ماین پاکۍ د خدمتونو او د افغانستان د ماین پاکۍ د همغږۍ د ریاست په همکاري ۱۸ ټولنې د ماین د خطر څخه پاکې اعلان کړې او په دې سره اټکل ۱۹۴۹۹ تنه وګړي وتوانیدل د ۹،۸ متره مربع ځمکې پر سر په خپلو ټولنو کې ازاد تګ راتګ وکړي. د فشار په ذریعه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو او چاودیدونکو وسلو د دوامداره ګواښ د شتون سره سره ، اټکل شوی چې په ماینونو ۳۵۱۱ ککړې سیمې ، د جګړې ۳۰۹ ډګرونه د وسلو د تمرین ۵۲ ککړ ځایونه شتون لري چې ۱۵۰۰ ټولنې متاثره کوي. په ۲۰۱۶ کال کې په میاشت کې د اوسط د ۱۶۲ قربانیانو د ریکارډ کولو په پرتله په۲۰۱۷ کال په میاشت کې د اوسط ۸۷ قربانیانو د پیښو میزان د پیښو په کچه کې ټیټوالی جوتوي ، د دغو قربانیانو زیاتره برخه (۸. ۹۷ سلنه) د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو او د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو له امله نه بلکه د ځمکنیو ماینونو له امله را منځ ته شوي.

**شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۴۵. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت ، د ملګرو ملتونو په تخنیکی ملاتړ د مې په ۱۹نیټه د ۲۰۱۶ کال لپاره د ترياکو د کښت په اړه د افغانستان ټولنیز-اقتصادي راپور بشپړ کړ. راپور ومندله چې په افغانستان کې د تولید شویو مخدره توکو تخمیني ارزښت په ۲۰۱۶ کال کې ۲.۰۲ بیلون امریکایي ډالرو ته لوړ شو چې دا په ۲۰۱۵ کال کې ۵۶. ۱ بیلون امریکایي ډالر و. د ۱۶سلنې نا خالصه داخلي تولید په درلودلو سره ، د مخدره توکو ارزښت د

هیواد د ټول قانوني کرهنیز سکټور د ۲/۳ څخه زیات و. د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو تر منځ زیاتوالي د تریاکو د تولید په برخه کې ۴۳ سلنې زیاتوالي او همداشان د هیروینو د بیو لوړوالي ته منسوب کیږي.

۴۶. د تریاکو د له منځه وړلو کلنې هڅې په مارچ میاشت کې پیل شوې. د مۍ د میاشتې تر ۲۳ ، افغان چارواکو په بلخ ، بادغیس ، هرات ، کنړ ، کابل ، کندهار ، لغمان ، ننګرهار او نیمروز ولایتونو کې ۶۸۵ هیکتاره ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه کړې (د کوکنارو د کښت د له منځه وړلو نهایي ارقام به یواځې د ستلایت د انځورونو په واسطه تایید شي.) دا د ۲۰۱۶ کال د موسم په ترڅ کې د کوکنارو د له منځه وړلو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی څرګندوي ، کله چې ، د ورته مودې پر مهال افغان چارواکو په بدخشان ، کندهار ، لغمان ، نیمروز ، سرپل ، او تخار ولایتونو کې ۹۸ هیکتاره ځمکه واړوله. په ۲۰۱۶ کال کې د والي تر مشرۍ لاندې د کوکنارو د له منځه وړلو د فعالیتونو د کمزورو پایلو نه وروسته ، د کوکنارو د له منځه وړلو په برخه کې دا زیاتوالی د ولسمشر له خوا ډېر ټینګار ، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د وزارت شدیدو هڅو او د ملي امنیت شورا له خوا بهتر شوې تعقیب ته منسوب شوی.

۴۷. د مارچ له ۳ د مۍ تر ۲۴ پورې ، د قانون پلي کونکو افغان چارواکو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې ټولټال ۷۴۵ عملیات ترسره کړې د کومو په نتیجه کې چې ۷۲۳ کیلو ګرامه هیروئین ، ۸۲۰ ، ۳۴ کیلو ګرامه مورفین ، ۲۶۳ ، ۱۵ کیلوګرامه اوپیم ، ۱۶ کیلو ګرامه میتامفیتامین ، ۹۵۱ ، ۹کیلو ګرامه چرس ، ۵۳۵ ، ۲۱ کیلو ګرامه پیش ساخته جامد کیمیاوي توکي ، ۷۹۰ ، ۳۲ لیتره پیش ساخته مایع کیمیاوي توکي او ۲۹ ک-ټابلیټونه (مصنوعي درمل) ضبط کړې. د دې سربیره ، د هیروینو د پروسس کولو ۲۲ لابراتوارونه له منځه وړل شوي ، ۱۲۴ نقلیه وسیلې ، ۱۶۶ میله وسلې او ۲۰۹ ګرځنده ټلیفونونه او پنځه رادیو ګانې ضبط شوې. د یادو عملیاتو پر مهال ، ټولټال ۸۱۹ تنه شکمن نیول شوې او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو دوه غړي وژل شوي او نور دوه تنه ټپیان شوي.

۴۸. د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو لپاره د سیمه ییز پروګرام د رهبري د شپږمې کمیټې ناسته د قزاکستان د حکومت په استازیتوب د اپریل په ۶ په آستانه کې ترسره شوه. د مخدره توکو د کنټرول د ادارو لوړ رتبه استازو ، د سیمه ییز پروګرام د اتو هیوادونو څخه د داخلي او بهرنیو چارو وزیرانو ، بسپنه ورکونکو ، نړیوالو شریکبانو او سازمانونو په ۲۰۱۶ کال کې لاسته راوړنې ارزولې او د ۲۰۱۷ کال لپاره لمړیتوبونه مشخص کړل. ګډونوالو د نا قانونه مخدره توکو او د فراملي سازمان شویو جرمونو سره د مبارزې په هدف د ښې شوې همکارۍ او مشترکه ځواب ویلو د چارو پر مثبتو اغیزو ټینګار وکړ.

**اووم. د ماموریت ملاتړ**

۴۹. د نړیوالو کارکونکو لپاره د تشو پوستونو د ۱۴ سلنې د تصویب شوې کچې په پرتله په اوس حال کې د ماموریت د تشو پوستونو کچه ۱۰ سلنه ده او د داخلي کارکونکو لپاره د تشو پوستونو د ۶ سلنې تصویب شوې کچې په پرتله ۴ سلنه ده. په ټولو کتګوریو کې د کارکونکو لپاره د جنډر توازن د نارینه وو لپاره ۸۶ او د ښځو لپاره ۱۴ سلنه ده. د ځانګړو تدبیرونو سربیره چې ماموریت نیولي او موخه یې د لا زیاتو ښځینه داخلي کارکونکو استخدام او ساتل دي ، د ښځینه داخلي کارکونکو شمیر په سلو کې ۷ سلنه ده.

۵۰. د ۲۰۱۷ د مارچ د ۱ او د اپریل د ۳۰ نیټو ترمنځ ، یوناما د سړک له لارې ټولټال ۱۷۸ ماموریتونه او د هوا له لارې ۲۲ ماموریتونه ، او همداراز د پوهاوي ۵۰۸ معکوس ماموریتونه ترسره کړي د کومو په جریان کې چې د ولسوالیو استازو د یوناما د ساحوي دفترونو څخه لیدنه کړې.

**اتم. کتنې**

۵۱. په کابل کې د ۲۰۱۷ کال د مۍ د ۳۱ او د جون د ۳ نیټو د شدیدو تروریستي بریدونو وروسته ، ما افغانستان ته په دې موخه سفر وکړ تر څو د حکومت او افغانانو سره خپل یووالی څرګنده کړم. ما د مخ پر خرابیدونکې امنیتي وضعیت په اړه په دیرې اندیښنې سره هیواد پریښود ، دغه وضعیت نه یواځې ډیر بشري کړاو رامنځ ته کړ بلکه همداراز د داخلي بې ځایه کیدنې لامل هم شوی ، دا مې هغه مهال درک کړه چې کله ما د داخلي بې ځایه شویو نارینه او ښځو سره د یوې ناستې په ترځ کې ولیدل. د هغوي د ژوند د سختو شرایطو سربیره ، د یوه سوکاله افغانستان لپاره د هغوي زړورتیا او له قیده پرته ژمنه باید موږ ته دا الهام راکړي څو په کلکه د هغوي ملاتړ وشي. سوله د هیواد د پایښت لرونکې پراختیا لپاره یو بنسټ برابروي.

۵۲. ما په خپلو ناستو کې د ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله عبدالله سره د حکومت د یووالي پر اهمیت ټینکار وکړ. هغوي په خپله خاوره کې د بیلابیلو ترهګرو ډلو د ډیروالي په اړه خپلې ژورې اندیښنې څرګندې کړې او د ترهګري سره د مبارزې په هدف یې د لا ډیرو همغږو نړیوالو هڅو په اړتیا ټینکار وکړ. د ولسمشر غني او د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف تر منځ وروستي ناستې د دوه اړخیزو اړیکو د ښه والي لپاره هیلې راټوکولې دي چې دا په خپل وار د ترهګري پر وړاندې د لا موثرې مبارزې لپاره یو مهم شرط دی.

۵۳. زه هڅول شوی یم چې حکومت د خپلو اصلاحاتو د اجندا پرمختګ ته دوام ورکړی. د هغو هڅو هرکلی کوي چې موخه یې د امنیتي دستګاه وو په شمول د اداري فساد ، د لوړ پوړو چارواکو تر منځ د احتساب د زیاتوالي مسلو ته ځواب ویل دي. په دې حواله د اداري فساد پر وړاندې د عدلي مرکز د کار او همدارنګه د حکومت له خوا د شخړې د اړوندو توقیفیانو سره د شکنجې او ناوړه چلند د له منځه وړلو د ژمنې یادونه کولای شو ، څو د شکنجې ، او نورو ظالمانه ، غیر انساني ، له تحقیره ډک چلند یا جزا پر وړاندې د کنوانسیون اختیاري پروتوکول تصویب کړي او له هغه کنوانسیون څخه له خپلو ملاحظاتو لاس پر سر/ انصراف وکړي. زه د تقنیني فرمان په واسطه د حکومت له اړخه د جزا د قانون د بیا کتنې هرکلی کوم.

۵۴. د ټولټاکنو په اړه را څرګندیدونکی تمرکز د هڅونې وړ دی ، خو په عین وخت کې ، دا د نویو ویشونو د را منځ ته کولو پوتانسیل لري او په سیاسي ساحو کې یې موجوده اختلافونه تشدید کړې. زه د اتبار لرونکو او رښو ټاکنو د ترسره کولو لپاره د حکومت او د ټاکنیزو ادارو د دوامدارو هڅو هرکلی کوم. د رایو د مرکزونو د ارزونې د مجموعې پیل به په ټوله کې د ټاکنو د تیاریانو په برخه کې یو مهم ګام وي او دا به د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمیسیون د مهمو سپارښتونو څخه یوه هغه پوره کړي: د رای ورکونکو د نوملړ پر بنسټ د رای ورکونکو د مرکزونو چمتو کول. دا به مهمه وي چې د پاته مسلو په اړه چټک پرمختګ وشي څو د ټاکنو په اړه ژر چمتوالی پیل شي.

۵۵. په داسې حال کې چې د اقتصادي ودې کچه څه ناڅه ښه شوې ، د راستنیدونکو په شمول ، اقتصادي وده د وګړو د ودې په واسطه شاته لویدلې. د حکومت پراختیایي لومړیتوبونه د افغانستان د سولې او پراختیا په ملي چوکاټ کې تفسیر شوې ، نړیوالي ټولنې په ۲۰۱۶ کال کې په بروکسل کې په سخاوتمندانه توګه خپل ملاتړ اعلان کړ. زه د چوکاټ د بهتره کولو په هدف ټول شریکبانې د تدبیرونو د نیولو لپاره هڅوم. د ملګرو ملتونو د سهم او برخې اخیستنې لپاره ، د خدمتونو د رسولو د یوه واحد تصور د تحقق سره د مرستې په هدف ژمن یم.

۵۶. امنیتي وضعیت نور هم خراب شوی. افغان امنیتي ځواکونه د مخ پر زیاتیدونکي یاغیتوب سره مخ دي. د شخړې بې رحمه ماهیت روحیه متاثره کړې او دا هغه موضوع ده چې د حکومت باورونو ته باید ځواب وویل شي. د جګړې زیات ملکي تلفات ، په خاص ډول د ښځو او ماشومانو پر وړاندې هغه اړتیا رابرسیره کوي چې د شخړې ټولې ډلې د ملکي کسانو د وژلو او معیوبولو د درولو لپاره جدي ګامونه واخلي. زه په ځانګړي ډول په کابل کې د مۍ د ۳۱ نیټې د برید او د راوروسته تاوتریخوالي د زیاتوالي په اړه اندیښمن یم او دا په شخړه کې د ملکي کسانو لا

اغیزمنتوب جوتوي. زه د نړیوال بشر دوستانه قانون او بشري حقونو د سرغړونو لپاره د احتساب پر اړتیا ټینګار کوم. په دې حواله ، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو د ملي ستراتیژۍ د پلې کولو په لور حرکت مهم دی. د ځینو دودیزو وسلو د کارولو په اړه د مخنیوي یا محدودیتونو په هکله چې کیدای شي زیات زیان اړونکي وي او یا بې توپیره اغیزې ولري ، غواړم د حکومت د هغې ژمنې چې په رسمي توګه د کنوانسیون پنځم پروتوکول تصویبوي یادونه کوم ، او همدارنګه د شخړې په ټولو خواوو غږ کوم څو د خپل کنترول لاندې سیمو څخه د جګړې له امله د جګړې پاته شوني چاودیدونکي توکي لرې کړي.

۵۷. د داخلي بې ځایه کیدنو لوړ ارقام د اندیښنې وړ دی. د دې سربیره ، د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله ، په ۲۰۱۷ کال کې افغانستان ته د راستانه شویو کسانو شمیر لوړ وو. د دې تر څنګ چې په ژر راتلونکي کې بشري ننګونې را منځ ته کوي ، ځمکې او اساسي خدمتونو ته د لاسرسي په شمول ، د زیات شمیر راستنیدونکو کسانو د ښه جذب او ادغام لپاره منځنیو او اوږدمهاله پرمختیایي حل لارو ته اړتیا لیدله کیږي. زه د افغانستان د حکومت له اړخه د دې مسلې د هوارولو په موخه د نیول شویو اقدامونو د ترسره کولو په اړه د حکومت د ښکیلتیا او ژمنې مننه کوم. یادونه کوم چې د پولیو د واکسین د کمپاین د ترسره کولو لپاره د بشري لاسرسي په برخه کې یو اندازه ښه والی را منځ ته شوی ، زه همدارنګه د شخړې په ښکیلو خواوو غږ کوم څو د روغتیا او د افغانانو د سوکالۍ لپاره لاسرسي ښه کړي.

۵۸. د دولت او اسلامي ګوند (ګلبدین) تر منځ د سولې د تړون د تطبیق په برخه کې د ترلاسه شوی پرمختګ ، افغانستان ته د یاد ګوند د مشر ګلبدین حکمتیار د راستنیدلو او له بندي خانو څخه د اسلامي ګوند د بندیانو د خلاصون په شمول ، د دولت هغه تمایل چې سوله تامین کړي ، څرګندوي. سوله باید د خبرو اترو او نه د جګړې له لارې ترلاسه شي. د دې لپاره چې سوله تل پاتې وي ، باید جامع وي ، د تیرو سرغړونو لپاره د احتساب څخه ډاډ حاصل کړي او د قربانیانو د حقونو څخه ملاتړ وکړي.

۵۹. د حکومت او طالبانو تر منځ د سولې د مستقیمو خبرو اترو په اړه په خواشینې سره د پام وړ پرمختګ نه دی شوی. د افغانان تر مشرۍ لاندې یو سیمه ییز چاپیریال چې د سولې د پروسې لپاره مساعد وي ، اړتیا لیدله کیږي. د دولت نوښت چې موخه یې د جولای په ۶ د سولې او امنیت د همکاریو د کنفرانس لپاره د کابل د بهیر دایرول و ، د همدې موخې ترلاسه کول و. دا د حکومت د هغه عزم پر وړاندې چې موخه یې د سولې تامین دی یو اثبات ده ، د کابل د پروسې په درشل او د تیرې اونۍ په اوږدو کې د تاوتریخوالي د ډارونکو کچو سره سره ، د حکومت له اړخه کنفرانس دایر شو.

۶۰. د سیمه ییز اړیکو په اړه ، په کابل کې د ورستیو امنیتي پیښو لړې د افغانستان د حکومت او پاکستان په هغو هڅو چې موخه یې د دواړو هیوادونو تر منځ د اړیکو ښه کول و ، سیوري وغوړاوه. د دواړو هیوادونو د لوړ پوړو پوځې چارواکو تر منځ د لوړې کچې تجدید شوې اړیکې او د کابل څخه د پاکستان د پارلمان د یوه لوړ پوړې هیئت لیدنې په بیلابیلو کچو کې د باور د زیاتولو په لور مثبت کامونه وو. زه د دواړو هیوادونو څخه غوښتنه کوم چې د دوه اړخیزو اړیکو د ښه کولو په لور دغې رغونکې ښکیلتیا ته دوام ورکړي چې دا په افغانستان او سیمه کې د سولې د ودې لپاره یو مهم شرط دی.

۶۱. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو څخه د ننګونو څخه د ډکو داسې شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه یې د افغانانو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي ، مننه کوم.